UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلامیه
http://unama.unmissions.org

## ملګری ملتونه د ښځو د امن د خونو ملاتړ کوي

**کابل، د ۱۳۹۱ کال د جوزا ۳۰ نیټه** - په افغانستان کې ملګري ملتونه د هغه اساسي نقش قوي ملاتړ کوي چې د ښځو لپاره د امن خونې يې تر سره کوي او هغو افغانو زيان منونکو ښځو او نجونو په تيره بيا د کورني او نور تاوتريخوالي قربانيانو ته ملاتړ او مصوونيت برابروي. د امن دغه خونې د ژوند ژغورنې لپاره اړين خدمت دی او په قانوني چوکاټ کې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالی په له منځه وړلو کې مهم رول او دنده لري.

تير کال د ښځو د چارو وزارت د مدني ټولنې، د ښځو د فعالينو د ګروپونو اونړيوالې ټولنې سره په نږدې همغږی کې کار وکړ او د ښځو د امن د خونو لپاره يې د قانوني طرزالعمل چوکاټ رامنځته کړ چې دغه چوکاټ نوموړي وزارت ته د امن د خونو د څارنې او نظارت لپاره د مشرتوب دنده ورکوي. د څو مياشتو ښکيلتيا او هڅو له مخې چې په کې ولس مشر کرزی هم برخه درلودله پر داسې يو کره سالم قانوني بنسټ باندې هوکړه وشوه کوم چې دا باوري کوي څو دغه د امن ځايونه/خونې په پوره روڼتيا او د حساب ورکونې له مخې فعاليت ولري. تر دې مهاله د دغو مقرراتو څخه د تخلف اوسرغړونې هيڅ ډول راپور نه دی ورکړل شوی.

د افغانستان حکومت، په تيره بيا هغه وزارتونه چې د جزايي عدالت د سيستم د پلي کولو مسووليتونه لري د دې مکلفيت لري چې داسې ميکانيزمونه رامنځته کړي چې له مخې يې په اغيزمنه توګه د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي مخنيوي وشي او د افغان ميرمنو او نجونو او په تيره بيا د هرډول کورني تاو تريخوالي او جنسي تيري د قربانيانو د حقونو ساتنه وکړي. په دې کې د ښځو په وړاندې د تاو تريخوالی د منع د قانون د بشپړ پلي کولو، او د هغو بيلابيلو د ژغورنې او د ملاتړ د خدماتو باوري کول چې هغه يې په دې لړ کې برابروي او په کې د زيان منونکو ښځو او نجونو لپاره د ژغورنې او امن خونې هم شاملې دي. رسمي عام بيانونه بايد د افغان ميرمنو په ګټه تر سره شي او د هغو قوانينو پلي کول تقويه کړي چې د هغوي د حقونو ساتنه کوي.

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**